هاري

واشنګټن 23/03/2009

# د دوبۍ کانفرانس: د خليلزاد ناوړه سياسي هلي ځلي

په دوبۍ کي، د " افغانستان: تضمين موفقيت" تر عنوان لاندي د مارچ کانفرانس په افغاني مطبوعاتو کي ښاپسته زياته علاقه او عکس العمل ايجاد کړيدي. ا لبته ځيني منفي او مثبت نظرونه هم وړاندي سوي دي. مګر زياتره مقالي او تحليلونه منفي وه. د منفي عکس العمل يو اصلي سبب د دوبۍ په کانفرانس کي د متحده ايالاتو د پخواني سفير ښاغلي زلمي خليلزاد مخکښ او نوښتګر رول وو؛ دوهم علت يې دا وو چي غونډه ډېره ناڅاپه، مرموزه، او په تلوار جوړه سوه. پدې غونډه کي، د بهرنيو چاور وزير سپنتا او د جمهوري ر ياست مشهور کانديدان اشرف غني، علي احمدجلالي، او ډاکټر عبدالله هم ګډون لاره. که څه هم کانفرانس کمه خاصه نتيجه ور نه کړه، خو خليلزاد يو ځل بيا د "امريکايي باز" نقش لوباوه. پوښتنه دا ده چي دا ځل به دا باز د چا پر سر کښېني؟

بل سوال دا دی چي ايا د خليلزاد سياسي نوښت د ښاغلی اوباما د حکومت ډيپلوماتيکي هلو ځلو يوه برخه ده، او که د خليلزاد خپله سياسي ډارمه ده؟

د متحده ايالاتو د بهرنيو چارو وزارت ته پکار ده چي پدې ارتباط څرګند دريځ غوره کړي. ايا خليلزاد د مېرمن کلنټن ملاتړ لري او کنه؟ ايا پداسي حال چي د ښاغلي اوباما اداره افغانستان د خپلي خارجي پاليسی محوري ټکی بولي، د خليلزاد په نوښت د دوبۍ غير موثر او جنجالي کانفراس د اوباما د اداري په موافقه وو او که د خليلزاد بل خپلسری سياسي اقدام دی؟ ايا د افغانستان په ارتباط د ښاغلي اوباما پاليسي مېرمن کلنټن عملي کوي او که خليلزاد؟ خليلزاد د بوش حکومت غړی دی. د هغوی غلطو پاليسيو نننی مشکلات خلق کړي دي. د امريکا خارجه وزارت مجبوره دی چي پدې اړه خپله دريځ افغانانو او نړيوالو ته روښانه کړي.

د انلاين افغاني مطبوعاتو ته په کتو سره داسي ښکاري چي اکثره افغاني ليکوالان د خليلزاد مداخله خطرناکه او ناسمه انګيري. ځکه خليلزاد ازمويل سوی دی، او هر واري پخپل ماموريت کي ناکامه سوي دي. د بن په کانفرانس کي د خليلزاد مداخلو په اساس د اوسني حکومت خښته کېره کېښېښوده سوه.

که څه هم، خليلزاد د مجاهدينو په دروان کي د بهرنيو چارو د وزارت يو کوچينی مامور وو، خو د مذهبي او اخواني ډلو په تقويه کولو کي يې زيات نقش لاره. افغان ملي، ديموکرات، او مترقي ډلي او اشخاص يې نه خوښېدل، د ملايانو سره يې ډېره طبعه لګېده. بلخوا، د خليلزاد او شمال ايتلاف نامشروع اړيکي هم د افغانستان د راتلونکي لپاره ډېري خطرناکي دي. کله چي هغه په افغانستان کي د سفير په توګه وظيفه اجرا کوله، هغه د کابل د "وايسري" په نامه مشهوره وو. د همدي لمړيو کلونو غلطو پاليسيو د نن ورځي ناورين را مينځته کړ. په افغانستان کي، د امريکا په ملاتړ د نن ورځي اکثره بدنامه جنګسالاران د خليلزاد د ناکامي دورې محصول دي.

د خليلزاد بل کرکټر پخپلسري کارونه دي. د بوش په پېر کي، خليلزاد پدې متهم سو چي د پاکستان په داخلي چارو کي ناوړه مداخله کوي. د سويس په اقتصادي غونډه کي يې د ايران د استازي سره پرته له مخکنی اجازې ناسته او کتلي وو. د هغه پخواني همکاران وايي چي د کابل سفارت په دوران کي به خليلزاد او کرزي په ساعتونو په ټيلفون کي خبري سره کولي، مګر تيلفوني مکالمي يې نه درجولې.

هيله ده چي د اوباما حکومت د خليلزاد د بېځايه او مضرو مداخلو مخه ونيسي. هغه نور د افغانستان په سياست کي ځای نلري. هغه د تېر پېر استازی دی، او نن سبا يې تر ګټي تاوان ډېر دی. خليلزاد د يوي داسي دورې پاتي شونی دی چي د امريکا په سياست او ټولنه کي يې خپل ټول اعتبار له لاسه ورکړی دی. د هغه خيال او فکر ناکامه او دوره يې ختمه ده.

بله پوښتنه دا ده چي ولي "افغانستان: تضمين موفقيت" غونډه په بهر کي جوړه سوه؟ ولي همدا غونډه د دوبۍ د لوکسو او ګرانو هوټلونو پر ځای په کابل کي جوړه نه سوه؟ کابل او دوبۍ فقط دوه ساعته فاصله سره لري.

په یوه خارجي ملک کي سیاسي غونډه کول پخپل ذات کي ناسم کار دی، ځکه انتخاباتي مبارزه باید دننه په وطن کي وسي، نه د ډوبۍ په هوټلونو کي. سیاسي مشروعیت د افغانستان په کلیو، ښارګوټو، او ښارونو کي تر لاسه کېږي، نه په خارجي محلونو او مرموزو غونډو کي. بلخوا، دا ډول غونډي سیاسي پروسه له سره خارجي او پردۍ ښکاره کوي.

په عین حال کي، پدې مجلس کي د خلیلزاد او جلالي څنګ پر څنګ ناستي دا ګونګوسی را ولاړ کړی دی چي ګواکي خلیلزاد د جلالي ملاتړ کوي. اوس نو، ایا د خلیلزاد ملاتړ د امریکا حمایت دی، او که د یوه پخواني نیوکان وروستۍ هلي ځلي چي غواړي د ځان لپاره یو بل کار او مشغولیت پیدا کړي؟ والسلام.


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de